# د زیتون بانو د افسانې مختصر فکري او فني جاج
# Technical and Intellectual Review of Zaitoon Bano's Fictions

Abaseen Yousafzai

**Abstract**

Zaitoon Bano is a prominent fictionist in Pashto literature. She has presented the pashtoon's women, their social and psychological life. She has written most of her fiction for the social well being of pashtoon women.This article in the critical review of the intellectual aspect of Zaitoon Bano's different fiction.

ادب د ژوند جاج دے. د ژوند تفسیر دے او د ژوند تعبیر دے. ادیب له پکار دي چې هغه د خپلې ټولنې د خپل چاپېرچل عکاس او ښائسته کوونکے وي. د ژوند په هر ډګر د انسانیت د خدمت اوملګرتیا د پاره ملاتړ ته تیاروي. محترمه زېتون بانو د یوې افسانه نګارې په حېث چېرې هم د خپل فرض نه غافله نۀ ده پاتې شوې. تل تر تله ئې د خپلې ټولنې ډاډه خدمت کړے دے. د دوي په حقله دا وئیلے شي چې د زېتون بانو افسانه د ښځو د ستونزو او نفسیاتو یو کوټلے جاج لري خو دغه خبره هیڅکله داسې نۀ دي ګڼل پکار چې د دوي د لیک موضوع یواځې ښځه ذات دے ـ د سړو د ستونزو او نفسیاتو ژوره تصویر کشي هم د دوي په افسانو کښې ښکاره په نظر راځي ـ بله خبره دا لازمي ګڼم چې د جنس د قېد نه ازاد که مونږه د پښتو افسانه نګارۍ او افسانه نګارانو تجزیه اوکړو نو د معیار او مقدار دواړو له رویه زېتون بانو تر ټولو لویه افسانه نګاره ثابتېږي. پروفېسر افضل رضا لیکي:

> "زېتون بانو چې چېرته د پښتو افسانې د معیار خیال ساتلے دے هلته ئې د افسانو د مقدار اوشمېر په لحاظ هم د پښتو په افسانه نګارو کښې ځان ته جوت مقام پیدا کړے دے. غالباً په پښتو کښې لا د یو افسانه نګار هم اتیا افسانې نۀ دي چاپ . دومره شمېر سره سره په فکري اوفني لحاظ د افسانې د معیار خیال ساتل د بانو کارنامه ده "[1]

دا خبره یاد لرل په کار دي چې اوس د زېتون بانو د افسانو شمېره ۹۷ ته رسېدلې ده . د دوي د افسانې د موضوعاتو او فني لوړتیا په حقله د اُردو لیکوال منشا یاد لیکلي دي:

*ان کے افسانوں میں پھول اور کانٹے، خوشبو اور بدبو، نیکی، اور بدی باہم دست و گریبان ہیں۔ اس کے ذریعے ہم پشتو افسانوں کے مزاج، فکر، سوچ اور لہجے سے آگاہ ہوتے ہیں اور ہمیں پشتون علاقے کی تمدنی اور تہذیبی زندگی کی سچی تصویریں دیکھنے کو ملتی ہیں۔* [2]

ترجمه: ددې (زېتون بانو) په افسانو کښې ګلونه، او ازغي، خوشبوئي او بدبوئي، نېکي، بدي په خپلو کښې لاس وګرېوان دي. د دې په ذریعه مونږ د پښتو افسانې دمزاج، فکر، سوچ او لهجې نه خبرېږو او مونږ ته د پښتنې سیمې د تمدني او تهذیبي ژوند رښتوني تصویرونه په نظر راځي.

د زېتون بانو د افسانو ژبه او لهجه هم یو ځانګړے رنګ لري د دې په حقله پروفېسر افضل رضا لیکلي دي.

" د بانو د افسانو ژبه ځان ته خواږهٔ لري. دا خوږهٔ ئې د ژبې د سوچه والي په وجه یو په دوه دي. د زېتون بانو افسانې د افسانو نه علاوه د پښتو د سوچه او خوږ نثر ښکلې نمونې دي چې د لوستونکي پرې د سوچه پښتو د لوستو تنده ماتېږي"[3]

د دوي د افسانه نګارۍاو د لیکوال په حېث د دوي په پښتو ادبي مېدان کښې د ادا کړي کردار په حقله ایوب صابر لیکلي دي.

"کومو فنکارانو چې د پښتو افسانه عروج ته رسولې ده او جدیدیت ته ئې دومره ورنزدې کړې ده چې اوس که څوک په عالمي لنډو افسانو تحقیق کول غواړي نو د پښتو د ځینې افسانو له څېړنې نه بغېر به ئې تحقیق نامکمل وي او په دغه ځینو افسانو کښې به د زېتون بانو ټولې افسانې ارومرو شاملې وي"[4].

په عالمي منظرنامه کښې د شلمې پېړۍ هر یو ادیب څهٔ نا څهٔ مخ رونړے لري. دغه پېړۍ ډېرې نوې نظرئې ، فني او فکري رفعتونه او بدلونونه راوړي دي. د زېتون بانو د افسانه نګارۍ په حقله پروفېسر محمد همایون هما لیکي:

"د زېتون بانو ادبي سفر د ګڼو تجربو او د فني پړاوؤنو نه راتېر شوے دے. وخت، د چاپېرچل ژورې مشاهدې او فني رياضت د هغې په ليکونو کښې د معيار يو دروندوالے راپيدا کړے دے. او دغې دروندوالي د هغې فن او شخصيت سره خپلو کښې داسې تړلي دي چې د پښتو جديد ادب د هغوي د ذکر نه بغېر بېخي نيمګړے ښکاري."[5]

شيشم کا پته د دوي د پښتو افسانو په ترجمه اړه لرونکے اردو کتاب دے چې د دغې د چاپ کېدو سره اردو دنيا د دوي د سوچه والي او مقاميت په حقله ډېر ګټور تنقيدي ليکونه اوکړل. اعجاز راهي د دغه کتاب په سريزه کښې د دغه امکاناتو څرګندونه داسې کوي:

*زیتون بانو نیے آنے والے افسانہ نگاروں میں سے ایک ایسا نام ہے جس نے اپنے فن و فکر کے حوالے سے اپنی الگ پہچان کرالی ہے۔ وہ پشتو افسانے میں جدید رجحانات و امکانات کو روشناس کرانے والی ہیں مگر زیتون بانو کا نام پشتو ادبیات میں صرف اس لیے اہم نہیں کہ وہ پشتو کی جدید، منفرد اور با صلاحیت افسانہ نگار ہیں بلکہ انہیں پشتو زبان کی عظمت کا ادراک ہے۔*[6]

ترجمه: زېتون بانو په نوؤ افسانه نګارانو کښې يو داسې نوم دے چا چې د خپل فن او فکر په حواله خپله ځانګړې پېژندګلي کړې ده. هغې په پښتو افسانه نوي رجحانونه او لوے امکانونه واچول خو د زېتون بانو نامه په پښتو ادب کښې صرف په دې اهمه نۀ ده چې هغه د پښتو نوې، ځانګړې او ځيرکه افسانه نګاره ده بلکې هغې ته د پښتو ژبې د عظمت پوره پوره ادراک دے.

پروفېسر افضل رضا يو بل ځايے کښې ليکي:

"د بانو افسانې کرداري هم وي، ماحولي هم او واقعاتي هم، خو کله کله هغه دکردار، ماحول او واقعاتو په رڼا کښې يو ځاے د افسانې داسې شاهکار هم وړاندې کړي چې لوستونکي ورته حېران پاتې شي. په يوه لنډه شان افسانه کښې ګڼې خوبۍ ځايول د ښې افسانې لويے صفت دے. او دغه د بانو په اکثرو افسانو کښې جوت دے."[7]

وئيلے شي چې زېتون بانو د پښتنو ښځو د ژوند ژواک او ستونزو ښې شانه ګټوره ترجماني کړې ده او دوي نه وړاندې په دغه موضوع څۀ کوټلي ليکونه مخې ته نۀ دي راغلي. په دې موضوع پروفېسر پرېشان خټک وائي:

*زیتون بانو کا پشتو افسانہ اس لحاظ سے منفرد ہے کہ وہ خود اس صنف سے تعلق رکھتی ہے جو عام طور پر افسانے کا موضوع بنتی ہے۔۔۔۔۔بانو اس لحاظ سے بھی منفرد ہیں کہ افسانو کا مجموعہ بھی ان ہی کا پہلے چھپ کر آیا ہے [8]*

ترجمه: د زېتون بانو پښتو افسانه په دې وجه ځانګړې ده چې هغه په خپله د هغه صنف سره تعلق لري کوم چې په عامه توګه د افسانې موضوع جوړېږي ...... بانو په دې لحاظ هم ځانګړې ده چې د افسانو ټولګه هم د دې تر ټولو (ښځو) اول چاپ ده.

د خپل چاپېرچل عکاسي کول، دخپل دور د حالاتو تنقیدي جاج اخیستل د خپلو خلقو د خوبیو ستاینه کول او د خامیو غندنه او اصلاح کول د هر قلمکار/تخلیقکار د علمي او ادبي کردار برخه وي او بیا په تېره تېره د شلمې پېړۍ لیکوال خو د ډېرو نظریو او بدلونونو سره مخ شوے دے. دغه وخت ټول ساهو فنونه د مقصدیت لوري ته مخ شوي دي. په دې باب ډاکټر سلیم اختر لیکي:

*زیتون بانو کے افسانوں کا Locale ہمیشہ سرحد اور اس کے گرد و نواح کا علاقہ بنتا ہے۔ اور اس طرح ہونا ہی درست ہے کیونکہ اس نے جس ماحول میں آنکھ کھولی، جس معاشرے نے اسے اس کا تشخص عطا کیا۔ اور جہاں کی مٹی سے اس کے وجود کا خمیر اُٹھا۔ ان سب کا تقاضا یہی تھا کہ وہ ان کی عکاسی کرتی۔ ان کے آیئنہ میں خود کو پہچانتی اور اپنے فن کے آیئنے سے ان کی شناخت کراتی۔یوں دیکھیں تو زیتون بانو صحیح معنوں میں سرحد کی بیٹی قرار پاتی ہے۔ [9]*

ترجمه: د زېتون بانو د افسانو ماحول تل د سرحد (اوسنے خېبر پښتونخوا) د هغې چار چاپېره علاقې وي. دغسې کېدل غوره خبره ده ځکه چې دې په کوم چاپېرچل کښې سترګې غړولې دي، کومې ټولنې چې دې له تشخص ورکړے دے او د کومې خاورې نه چې د دې خمبیره رااخستے شوے، د دغو ټولو غوښتنه دا وه چې دې د هغې عکاسي کولے. د دې په ائینه کښې ئې ځان پېژندلے او د خپل هُنر په ائینه کښې دې له پېژندګلي ورکولے. که دغه رنګ اوګورو نو زېتون بانو په صحیح معنو کښې د سرحد (پښتونخوا) لور ثابتېږي .

افسانه د ژوند د حالاتو عکاسي وي. افسانه نګار چې څۀ هم په خپل ماحول کښې ويني، د خلقو د عبرت دپاره ئې په داسې واقعاتي ترتيب رانقل کوي چې د اصل نه زيات اثر اوکړي. د واقعې په ليدو د خپلو تاثراتو د مصالحې سره يو تاثر راولاړوي او قلم ته ئې سپاري. په فني او ژبني خاصيتونو کښې مهارت د يو ليکوال ذاتي او بېخي خپله خوبي وي . احمد پراچه ليکي:

> *زیتون بانو زندگی کی راہ میں آیے ہوۓ چھوٹے چھوٹے واقعات کو بڑی ہنرمندی سے بیان کرنا جانتی ہے۔ اس کی تمام کہانیاں ایسے کرداروں کے گرد گھومتی ہیں جو اسے اپنی راہ میں نظر آتے ہیں۔ وہی بے ضرر لوگ جو اپنی سادہ لوحی کے ہاتھوں لُٹ جاتے ہیں اور ان لٹنے والو میں زیادہ طور پر عورتیں ہیں اور مرد تو صرف لوٹنا جانتا ہے۔*[10].

ترجمه: زېتون بانو د ژوند په لاره کښې راغلې وړې وړې پېښې په ډېره هنروری په بيانولو پوهېږي. د دې ټولې قيصې د داسې کردارونو نه چاپېره چورلي کوم چې دې ته په خپله لاره کښې په نظر راځي. هغه بې ضرره خلق څوک چې د خپلې سادګۍ او صداقت په وجه لوټ کېږي او په دغو لوټ کېدونکو خلقو کښې زياتې ښځې وي او سړے خو تش لوټ کول پېژني.

اوس به لږ راشو د زېتون بانو فني خاصيتونو لوري ته چې دوي د افسانې د کومو کومو لوازماتو په غوره ډول خيال ساتلے شوے دے.

## ١ منظر نګاري

هره ادب پاره د ليکوال/ تخليقکار په نظر کتل پکار وي نو هله به د تصور او تخيل په وسيله د لوستونکي د ذهن په خانو کښې دغه فن پاره خوندي کېږي. تر څو چې د افسانوي ادب تعلق دے نو د دغې ادب د پاره دا لازمي ده چې مونږ د يوې قيصې ټول منظرونه د ليکوال په سترګه اوګورو. افسانه نګار، ډرامه نګار، داستان ګو يا ناول نګار چې لوستونکو ته څۀ ښودل غواړي د خپل بيان په زور هغه ژوندي جاړن تصويرونه د لوستونکي مخې ته راولي. ټول کليات او جزيات په نقش شوي رنګ کښې راوړاندې کړي.

د زېتون بانو زياتره افسانې د خپل قبائلي ژوند د چاپېرچل نه اخيستې شوي دي. د کليوال ماحول په باريک بينۍ ننداره وړاندې کول او د مختلفو طبقو او جنس د خلقو کړۀ وړۀ او د

هغو د کار روزګار نقشه وړاندې کول ، بانو په دومره جادوګری کړي دي چې لوستونکي په هېڅ حال هم ځان د دغه منظر نه بهر نۀ ګڼي. دغه په لفظونو جوړې کړې نقشې د لفظونو نه زياتې د رنګونو او متحرک تصويرونو په شکل کښې څرګندېږي.

دغه مثال د دوي په ګڼو افسانو کښې په نظر راځي. د مثال په توګه ``سوغات" افسانه رااخلو. دغه افسانه د اغاز نه تر انجامه د منظرونو يو ارتقائي شان و شوکت ښائي او د افسانې په وړاندې بوتللو کښې ډېر کردار ادا کوي. د کلي نقشه، د ځنګل د ونو نظاره، او بيا په دغه ځنګل کښې يوه ونه چې اور پرې لګېدلے وي. يوه ښځه چې په دغه وُنه کښې بله ښځه په سوځېدو اووينې او بچ کولو له ئې ورشي. بل خوا د انسان دننه د علامتي ازغنو ونو ځنګل او بهر د شنو او مېوه دارو ونو ځنګل. ټول واقعات په خپلو کښې نزدې تړون لري چې د افسانه نګار د عظمت او په موضوع د ګرفت پوره پوره څرګندونه ترې کېږي .

## ۲ انداز او بيان

د يو ليکوال د پاره د ټولو نه ضروري خبره دا وي چې دے څۀ اوليکي، چې په هغې لوستونکي پوهه هم شي. د ليکونکي او لوستونکي تر مېنځه ژبه، بيان او انداز دغه کار ترسره کوي. که چېرې په دغو څيزونو لوستونکے اورسي او هغه مطلب يا د هغې نه لږ زيات ژور مطلب ترېنه رااوباسي کوم چې د ليکونکي مقصد وي نو ليکونکے په خپل کار کښې برياله دے ګڼې ناکامه دے. که چېرې ليکونکے په دغه لازمي توکو کښې چېرته هم تېروتو يا مهمل (بې معنٰی) شو نو مقصد فوت کېږي. لکه ژبه، انداز او بيان د يو اديب د پاره د پُل صراط نه کم نۀ دي. که چېرې ليکوال په دغه ټول پوره اوختو نو د کاميابۍ جنت ته اورسېدو او که چېرې ايله تېروتو يا پاتې راغلو نو د تنقيد د ښامارانو کندې ته پرېوتو.

که په دغه تله مونږ د زېتون بانو افسانه تَلو يا تلل غواړو نو بې مثاله افسانه ده. د دوي اکثره افسانې بيانيه دي. په ډېره رواني، سادګۍ، اسانۍ او تسلسل خپله قيصه مخ په وړاندې بوځي. د کردار او ماحول د ضرورت مطابق ټکي راټولوي او استعمالوي. د غېر ضروري اوږدو جملو او غېر متعلق ټکيو چې ثقالت راولي نه ډډه کوي. د ټکيو د قيمت او ضرورت خيال ساتي. د دوي دکردارونو نومونه سوچه پښتانۀ وي. د کردارونو لب و لهجه ډېره منطقي او موزونه وي. په يوه افسانه ``ببوزے" کښې يو شډله بډله پښتنه ښځه د ګډېدونکي ډمې په حقله خبره کوي او دا خبره هغه وخت کوي چې کله دا د دغه ډمې د خوراک څښاک کولو په وخت او د سرو ترمېنځه ناسته اووينې.

"زهر ئې شه . يو دومره پېسې واخلي چې خلق اولوټي او بل لا خوراکونه هم د

باچاهانو کوي."[11]

# ۳ مکالمې

مکالمه د افسانوي ادب يو ډېر خاص توکے ګڼلے شي او په بيانيه يا کرداري دواړه قسمونه افسانو کښې د مکالمې خپل اهميت دے. او بيا په تېره تېره په کرداري افسانه کښې د دې ضرورت او اهميت نور هم زيات شي. د هر کردار د ژبې نه وتي الفاظ مکالمه ګڼله شي. د افسانوي ادب هر تخليق کار که داستان ګو، ډرامه نګار دے، ناول نګار دے او که افسانه ليکونکے خپل کردارونه د مکالمو په وسيله ګويا کوي. د زېتون بانو د افسانو کردارونه د خپل جنس، ماحول، عمر، حالاتو او موقعې محل په تناظر کښې ګويانه کېږي. دغه که د جبر کردارونه وي او که د صبر، سخت خويه وي او که نرم خويه د خپلو خيالاتو او چاپېريال ذهني سطحې او نفسياتي کېفيتونو ډوبه ترجماني کوي. لکه دغه مثال اوګوري.

> "زما باتور زوے، زما پښتون زوے! زما بچے ټېر دې يخ کړو راله. ستا د شان نه دا معلومېږي چې تا زما پښتو پوره کړه. تا د خپل پلار بدل واخيستلو. څمه چې بُرقعه راواخلمه. پلار له دې قبر له ورشمه او امبارکي ورکړمه نن زما پښتو پوره شوه"[12].

د بلې افسانې په لانديني نثر ټوټه کښې د مکالمې او خود کلامۍ دغه رنګ هم اوګوري:

> "اف خدايه! دا کوم اور دے؟ چې ما له ئې داسې تاؤ راغلو. دا کومې لمبې دي چې داسې ما نه چاپېره شوې. يا الله تعالیٰ دا کوم عذاب دے چې زما د دماغ په دريچو ورننوتو او زۀ ئې داسې بې ارامه کړمه. دا چېرته د رقابت اور خو نۀ دے"[13].

# ٤ کردار نګاري

د زېتون بانو د افسانو اکثر کردارونه د خپل ماحول ژوندي جاړن تصويرونه وي. زېتون بانو د خپل چاپېرچل ژوره مشاهده او ننداره کوي او د هغې نه د خپلو افسانو له کردارونه تراشي. بانوپه خپله ليکي :

> "زما د افسانو ټول کردارونه په خپله غږېږي چې دوي حقيقي دي او لوستونکے د دغې تايد کوي چې دغه کردارونه زمونږ د ټولنې ژوندي ګرځندي کردارونه دي".[14]

د بانود افسانو کردارونه ډېر کوټلي او سپېڅلي شخصیتونه لري چې د حالاتو د مقابلې کولو پوره توان لري او په هېڅ یو مرحله کښې ماتې نهٔ مني. د دوي د کردارونو د خپل ماحول سره د مقابله کولو نه پس پوره پته لګي چې دا پښتانهٔ کردارونه دي. دغه کردارونه زما د ټولنې پېژندلي نفسیاتي او فطري رنګونه دي. د افسانه نګارۍ بانو خاصښت دا دے چې د دغو کردارونو پټ ذهني خلفشار را څرګندوي. د شوې پاڼه افسانه کښې د شمو د کردار عجیبه جنسي تنده دغه ټولې دعوې رښتیا ثابتوي. د دغه کردارونو د حقیقي کېدو له وجې د دوي اثر زیات دے. د دغو په جوړښت کښې د مصلحت، دروغو او چل ول نه کار اخیستے شوے لکه مونږ د ``مات بنګړي" د یو جنسي ثقالت ښکار ځوان ظریف کردار رااخلو. ظریف د خپل جنسي تسکین د پاره دګودر نه د ماتو بنګړو ټوټې راټولوي. کله چې هغهٔ ته پته اولګي چې دغه ټوټې د دهٔ د خپلې خور د بنګړو دي نو ظریف د یو عجیبه نفسیاتي کېفیت سره مخ کېږي چې لوستونکے پرې ورحمېږي.

لنډه دا چې بانو د خپل ماحول د هر جنس او هرې طبقې د کردارونو ژوره مطالعه لري.د انساني دردونو او غمونو سره ژورې اړیکې لري. د نسواني کردارونو سره ئې نارینه کردارونه هم ډېر ښهٔ لیکلي دي خو په خپله یوه ښځه ده نو د ښځو د کردارونو داسې اړخونه ئې هم راویستلي دي چې په پښتو کښې دغه معیار وړاندې په نظر نهٔ دے راغلے.

## ۵ موضوعات

د زېتون بانو د افسانو موضوعات د پښتنې ټولنې او علاقې د معاشرتي او سماجي ژوند ژوره عکاسي لري. د دوي افسانې د نړۍ دننه د بدلېدونکو حالاتو نه هم بې خبره نهٔ دي خو د دوي د قلم اصل پام خپل چاپېرچل او سیمه ایزو حالاتو ته دے. د پښتنې ټولنې دننه د سماجي نا انصافو، د پښتونولۍ په نامه د غلط العوام روایاتو، د جبر استحصال، بې انصافۍ او ناروا رویو خلاف همېشه د دوي قلم په حرکت کښې راغلے دے. بانو بي بي پخپله وائي چې :

*میرے افسانوں میں آپ کو خوشبو بہت کم محسوس ہوگی۔ کیونکہ میں رستے ناسور قلم کے ذریعے پھوڑتی ہوں اور کچے پکے ناسوروں میں بدبو ہی ہوا کرتی ہے۔* [15]

ترجمه: زما په افسانو کښې به تاسو ته خوشبوئي ډېره کمه محسوسېږي ځکه چې زهٔ چقړ ناسور شوې زخمونه په قلم څیرم او په کچه پخو ناسورونو کښې تشه بد بوئي وي.

د زېتون بانو دغه خاصيت ته ځينو خلقو د سعادت حسن منټو اثر اووئيلو. ځينو خلقو ورته د سرحد عصمت چغتائي اووئيله خو حقيقت دا دے چې هر ذمه دار فنکار هم دغسې وي.

د جنس په موضوع د ډېر ډاډه ليک په وجه دغه الزامات د زېتون بانو په ذات اولګېدل خو بل لور ته دوي د پښتنو د نفسياتو هم ډېر ژور جاج اخيستے دے. د اخلاقياتو په مسخ شوي مخ کښې ئې ښېرته پوزه خولهٔ جوړ کړي دي. د روايتو دننه غوره او درانهٔ خويونه اوخصلتونه ئې را ژوندي کړي دي. د پښتنو د غېرت، تورې، مړانې، مېلمه دوستۍ، خود دارۍ او دغه رنګ پت پښتونولۍ ګڼ خاصيتونه ئې ستائلي هم دي. د پښتون کړهٔ وړهٔ څرګندوي. په بې پښتو کارونو تنقيد کوي او د روايتو عظمتونه ئې ستائي.

لنډه دا چې زېتون بانود خپل بې رويه بې ريا قلم په ذريعه د پښتنو په ډېره قدامت پسنده معاشره کښې هم ډېر ډاډه تنقيدي ليکونه کړي دي. د خپلو افسانو په موضوعاتو اوکردارونو کښې ئې د ډېرو ټولنيزو ستونزو کامياب هوارے کړے دے.

## ۶ پلاټ

څهٔ رنګه چې د بنيادم د ملاتير په وجود کښې د متحرک پاتې کېدلو د پاره بنيادي حېثيت لري. څهٔ رنګه چې پوخ اوکوټلے بنياد د يوې ودانۍ د استحکام سوب جوړېږي، دغه رنګ پلاټ د قيصې د واقعاتو د بوڼلو کار ته وئيلے شي.

که چېرې په پلاټ کښې لږ هم جول راشي نو ټوله افسانه سسته پسته شي،کمزورې شي.

د مېرمن زېتون بانو په افسانو کښې پلاټ عموماً ډېرکوټلے اوسپېځلے وي. د دوي په پلاټ کښې هېڅ قسم ثقالت يا سستي په نظر نهٔ راځي. که چېرې د دوي افسانې مات بنګړي، ژوندي غمونه، د شوې پانه، ککرے، د ايرو ځلےاو دغسې يو څو نورې افسانې اوکتلے شي نو د پلاټ زور به معلوم شي. د واقعاتو ترتيب او تسلسل لوستونکے ښځي د کتاب نه سترګو اړولو ته نهٔ پرېږدي.

## حوالې

[۱] پروفېسر افضل رضا، پنځهٔ شمعې،پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۶ء، ص ۲۶۰.

[۲] منشا ياد، سه ماہی سياره لاہو،(شيشم کا پتہ)، مارچ ۱۹۷۷، ص ۲۸۸؛ دغه ليک هغه وخت شوے دے کله چې دَ مېرمن بانو دَ پښتو افسانو اُردو ترجمه شيشم کا پته چاپ شوه.

[٣] پروفېسر افضل رضا، پنځهٔ شمعې، ص ٢٦٦.

[٤] ایوب صابر، مات بنګړي(مقدمه)، مکتبه ارژن پشاور، ١٩٥٩ء، ص ١١

[٥] همایون هما، پروفېسر، پنځه شمعې (تحقیق: پروفېسر افضل رضا)، ص ٢٥٥

[٦] اعجاز راهي، شیشم کا پته، (پیش لفظ)، مکتبه ارژنګ پشاور، ١٩٧٩ء، ص ١٣

[٧] افضل رضا، پروفېسر، پنځه شمعې، ص ٢٦٠

[٨] دَ حلقه اربابِ ذوق اجلاس، ١٦ جولائي ١٩٧٦ء، رپورټ روزنامه مشرق پشاور.

[٩] ڈاکٹر سلیم اختر، زیتون بانو شخصیت اور فن(اباسین یوسفزئی) اکادمی ادبیات پاکستان، ٢٠٠٨ء، ص ١٦٨-

[١٠] احم پراچه، زیتون بانو فن اور شخصیت، مکتبه اژرنګ پشاور، ١٩٨١ء، ص ١١٩.

[١١] زېتون بانو، مات بنګړي، مکتبه ارژنګ پشاور، ١٩٥٩ء، ص ٧٢.

[١٢] زېتون بانو، ژوندي غمونه، دوېم اېډيشن، ١٩٨٥ء، ص ٩٥.

[١٣] زېتون بانو، وئېنو خوړلے دېوال (ژوندي غمونه) مکتبه ارژنګ پشاور، ١٩٧٩ء، ص ٤٥.

[١٤] اباسین یوسفزئی، زیتون بانو: شخصیت اور فن، اکادمي ادبیات پاکستان، ٢٠٠٨ء، ص ٧٤.

[١٥] زیتون بانو، شخصیت اور فن، تحقیق اباسین یوسفزئی، اکادمي ادبیات پاکستان، ٢٠٠٨ء، ص ٧٠.